# دومره عمل کوئ چې توان يې لرئ، قسم په الله چې؛ الله تعالی (په ثواب او اجر ورکولو) نه ستړی کېږي تر څو چې تاسو په عمل کولو ستړي نه شئ

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له مېرمن؛ أم المؤمنين عائشې رضی الله عنها څخه روايت دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم زما سره و چې حولاء بِنْت تُوَيْتِ بْنِ حَبِيبِ بْنِ أَسَدِ بْنِ عَبْدِ الْعُزَّى زموږ په خوا کې تېره شوه ما وويل: چې دا حولاء بنت تويت ده، خلک وايي چې دا د شپې نه ويده کېږی (عبادت کوي) رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: "د شپې نه ويده کېږي! دومره عمل کوئ چې توان يې لرئ، قسم په الله چې؛ الله تعالی (په ثواب او اجر ورکولو) نه ستړی کېږي تر څو چې تاسو په عمل کولو ستړي نه شئ".
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

کله چې حولاء بنت تويت رضی الله عنها د ام المؤمنين عائشې رضی الله عنها سره وه، نو هغه مهال ترې لاړه، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې کور ته راننوت. نو عائشې ورته وويل: دا ښځه د شپې مهال خوب نه کوي، بلکې شپه په لمانځه سره سبا کوي. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم يې دا عمل ښه ونه ګاڼه چې پرځان سختي کوي. د شپې خوب نه کوي! په هغو نېکو عملونو دوامدار بوخت شئ چې توان يې لرئ، ځکه قسم په الله چې، الله هېڅکله خپلو نېکو، پيروي کوونکو بندګانو ته په ثواب او بدلې ورکولو نه ستړی کېږي، تر څو چې هغوی ستړي شي او عمل کول پرېږدي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10411

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee